مونږ د رسول الله - صلى الله عليه وسلم سره : په تنګلاسۍ او پراختيا، خوښۍ او ناخوښۍ، بيعت وکړ او دا چې په خپل ځان به - هغه- ته لومړيتوب ورکوو

له عبادة بن الصامت رضي الله عنه څخه روايت دی وايي: مونږ د رسول الله - صلى الله عليه وسلم سره : په تنګلاسۍ او پراختيا، خوښۍ او ناخوښۍ، بيعت وکړ او دا چې په خپل ځان به - هغه- ته لومړيتوب ورکوو، او دا چې د واک په سر به يې له خاوندانو سره شخړه نه کوو، او دا چې حق به وايو که هر چېرته وو، او د الله تعالى په اړه به د هيڅ ملامتوونکي له ملامتيا څخه نه وېريږو».

[صحيح دی] [متفق عليه دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم له صحابه کرامو څخه په اسانۍ او سختۍ او د شتمنۍ او بې وزلۍ په حالت کې ژمنه او تعهد واخيست چې د آمر او چارواکو پيروي به کوي، برابره خبره ده که د هغوی امرونه نفس منل يا يې بد ګڼل، تر دې چې که چېرته چارواکو په عامه شتمنيو منصبونو او داسې نورو شيانو کې ولس باندې ځان ته لومړيتوب ورکاوه، نو بيا يې هم په نيکيو کې اطاعت واجب دی، او دا چې خروج به پرې نه کوي ځکه چې هغوی سره په جنګ کولو کې فتنه او فساد له هغه نارواوو څخه ډير لوی دی چې له دوی سره د هغوی د ظلم له امله رامنځته کيږي، او له هغه څخه چې دوی پرې ژمنه وکړه دا و چې هر ځای کې به حق وايي، او الله تعالى ته به يې پکې نيت خالص وي، او د چا له ملامتيا څخه به نه وېريږي.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/3061